مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۴ / ۰۲

# کفاره

ته افغان وې نو پنجاب ته ولې لاړې؟
ځان دې ولې کړ پردي جنګ کې لتاړې
هغه جنګ چې د جهاد په نوم راپیل شو
د پنجاب یوه دسیسه وه، سر تر غاړې
د خپل ورور پر ضد پنجاب سره مرچل کې
شرم نه وو، جنګېدې چې غاړه غاړې
ویجاړی کې دې چنګیز ته برائت ورکړ
خپل کابل دې کړ پنجاب په خوله، ویجاړې
د وطن ورانی کې کم تر پنجاب نه یې
دار نه دار دې ټول پنجاب ته کړ کباړې
چا چې زده کړه له تاریخه کړې نه وي
په هر څرخ کې د تاریخ یې وځي داړې
له لاس تللي فرصتونه نه راګرځي
ګټه نه کړي که پخپلو سهوو ژاړې
کفاره د ګډ سنګر د پنجاب نه شي
په کوم مخ به سپیناوی له تاریخ غواړې
د ۲۰۲۳ کال د مارچ ۳۱ مه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ